# د بيزو تڼاکې ناروغۍ په اړه لنډ راپور

**انټرنيوز په افغانستان کې - اګسټ ۲۰۲۲**



د ۲۰۲۲ کال د اګست تر پنځمې، په افغانستان کې د بيزو تڼاکې ناروغۍ هیڅ پېښه نه‌ده ثبت شوې. خو د روغتيا نړيوال سازمان په څو نورو هېوادونو کې د دغې ناروغۍ د خپرېدو په اړه اندېښنه څرګنده کړې او په نړۍ کې يې بېړنۍ حالت اعلان کړی دی.

د اګست له پنځمې بيا تر اوسه د بيزو تڼاکې ناروغۍ پېښې د نړۍ په ۸۸ هېوادونو کې ثبت شوې دي. له دې ډلې ۸۱ يې هغه هېوادونه دي چې په کې له دې دمخه د دغې ناروغۍ په اړه کوم راپور نه‌وو ورکړل شوی. په ټوله کې تر دې مهاله ۲۸،۰۰۰ پېښې ثبت شوې چې ډېرې يې په اروپايي سيمو پورې اړه لري.

## د اوازو بهير*

"لکه چې دا نوی ويروس هم د امريکا پروژه ده، يو وار خو کرونا وه."

(۲۰۲۲م د مې ۲۲مه، فيسبوک)

"کرونا مخ په ختمېدو شوه اوس دا بلا راغله دا ټول د بيولوژيکی وسلو د لابراتواری تجربو پايله ده ...."

(۲۰۲۲م د مې ۲۱مه، فيسبوک)

"دا ناولي خلک [د روغتيا نړيوال سازمان] د [کوويډ ۱۹] واکسين په درلودلو سره، خپله د بشريت دښمنان دي. دغه وينې زېښبونکي اوس په يوې بلې ناروغۍ [د بيزو تڼاکې] باندې کار کوي او وروسته يې بيا واکسين بازار ته وړاندې کوي او خلک د واکسين ترلاسه کولو ته اړباسي. بالاخره خلک د ۴ تر ۵ ځله واکسين له تطبيق وروسته د ۳ تر ۵ کلونو په موده کې فلج کېږي. د بېلګې په توګه، وينه د انسان په ځيګر، سږو او يا هم ټول بدن کې لخته يا پرڼ کيږي او زړه له کاره غورځي. په دغو سپيو باور مه‌کوئ..."

(۲۰۲۲م د مې ۲۸مه، فيسبوک)

*پر خواله رسنيو اوازې د افغان کاروونکو لخوا

## ولې دا موضوع مهمه ده؟

د بيزو تڼاکې ناروغۍ پېښې لا تر اوسه په افغانستان کې نه‌دي ترسترګو شوې. د دغې ناروغۍ او واکسين په اړه يې هر ډول ناسم معلومات کولای شي پر ټولو روغتيايي چارو هر اړخيزې ناوړه او منفي اغېزې ولري. دغه ډول اوازې له شک پرته د لوېديځ په ملاتړ د شته پروګرامونو او واکسين ټيمونو د موخو پر وړاندې بې‌باوري پياوړې کوي او په قوي اټکل د واکسين کمپاينونو پر وړاندې لا زياتې سرتمبګۍ ته لمن وهي او د امريکا ضد احساسات پاروي.

دغه ډول اوازې پرله‌پسې د افغانانو ترمنځ د امريکا او لوېديځ ضد احساسات خپروي. البته دا ډول اوازې د کوويډ-۱۹ ويروس د اوجګيرۍ پرمهال هم وې؛ په تېره بيا هغه وخت چې د واکسين توليد له‌پاره هڅې کېدې. دا احساسات په ټوله کې له دې ليدلوري سره مل پاتې شوي چې ګواکې سترو قدرتونو او لوېديځو مؤسسو د کوويډ-۱۹ په خبر، دا ويروس په لابراتوارونو په دې موخه جوړ کړي چې هم د نړۍ په تېره بيا مسلمانانو نفوس کم کړي، هم اقتصادي ګټې ترلاسه کړي، او هم د خپلو سيالانو پر وړاندې بيولوژيکي جګړه وکړای شي. په عموم کې دا ډول اوازې او شايعات د لوېديځو قدرتونو په منځ کې د پراخې بې‌باورۍ لامل کېږي چې په پخوانيو جيوپولټيکو او تاريخي تربګنيو کې ريښه لري.

د بشرپاله اړتياوو اوسنۍ حادې کچې ته په پام، د بيزو تڼاکې ناروغي په اوسنيو نه‌پاييدونکو ټولنيزو او اقتصادي شرايطو کې، په يو بل خنډ او په لويې ستونزې بدلېدلای شي، او دا احساس يوازې په افغانانو پورې منحصر نه‌دی — د نړيوالو اوازو په اړه زموږ معلومات او د ناسمو معلوماتو په تړاو د ټولو سرچينو څارنه، د دې ښکارندويي کوي چې د داسې مواردو رامنځ ته کېدل په نړۍ کې د کوويډ-۱۹ «له منځه وړل او بېرته رامنځ ته کولو» توطيې لړۍ ده.

په هېواد کې د واکسينو په تړاو شته شکونو ته په پام، د ۲۰۲۲ کال په بهير کې پر شپږو روغتيايي مرکزونو د بريدونو ترسره کېدلو په اړه چې په کې (د پوليو واکسين څانګې اته تنه کارکوونکي ووژل شول او ترڅنګ يې په ۲۰۲۱ کال کې د پوليو اتو تنو واکسيناتورانو وژل کېدلو) راپور ورکړل شوی دی. نو له دې امله مهمه ده چې د روغتيايي مرکزونو پر وړاندې د داسې له تاوتريخوالي ډکو کړنو او خوځښتونو تر شا پرتو لاملونو او انګېزو ته پام وشي. وروستی شمېرې او معلومات په ډاګه کوي چې په روغتيايي ټيمونو او مرکزونو باندې شوي بريدونه د پوليو يا ماشومانو فلج واکسين په اړه، په ناسمو معلوماتو او غلطو باورونو کې ريښه لري. يا په بله وينا، وروستی پېښې د همدغو بنيادي اندېښنو او ژورو ناباوريو زېږنده دي.

# حقیقتونه: خپرېدل

د بیزو تنړاکې ناروغي تر لویه بریده د افریقا په مرکز او لویدیځو سیمو، په ځانګړي ډول د استوایي—باراني ځنګلونو په شاوخوا کې رامنځ ته کیږي، او ورځ تر بلې په ښاري سیمو کې هم سر راپورته کوي. دا ویروس په یو شمېر ژویو او بیزوګانو کې شته، خو د ناروغۍ اصلي سرچینه او منبع لا هم نه‌ده څرګنده.

د دغې ناروغۍ بې‌ساري او چټک خپرېدل، په تېره بیا په هغو هېوادونو کې چې پخوا په کې نه‌وه، او د ناروغۍ د لېږد او سرایت نوې لارې چارې، د دې لامل شوي، چې د څارنې او نظارت د تقویې په برخه کې پرېکړې وشي.

د بیزو تنړاکې ویروس، نه د کوم لابراتوار محصول دی، او نه هم د نفوس له‌منځه وړلو او یا کمولو له‌پاره جوړ شوی، بلکې دغه ویروس له پخوا راهیسې په بومي—محلي سیمو کې وو، او اوس نورو هېوادونو ته هم خپور شوی دی. نو له دې کبله د غیرضروري زیانونو کنټرول او مخنیوي په پار، د خطر دا زنګ کړنګول کېږي. لکه څنګه چې ژنیتیک‌پوهې اغلې فاطمې توخم افشان په دې اړه توضیح ورکړې؛ شونې ده چې تر یو لړ ژنیتیکي څېړنو وروسته، د ویروس اصلي سرچینه وموندل شي. تر دې مهاله چې د بیزو تنړاکې ناروغۍ د اصلي سرچینې موندلو په اړه کومې څېړنې په لویدیځه افریقا کې شوي: «موږ ته دا راڅرګندوي چې دا ویروس جوړ شوی شی نه‌دی».

# حقیقتونه: نښې او اعراض

تبه، شدیده سردردي، د غړو درد، د ستوني درد، د ملا درد او کمزوري، د بیزو تنړاکې ناروغۍ له ځانګړو نښو او اعراضو شمېرل کېږي. معمولاً د پوستکي خارښت او د تناکو راختل، تر تبې یوه یا درې ورځې وروسته، راښکاره کېږي. (نړیوال روغتیایي سازمان)

پر ناروغۍ اخته کس، د نښو او اعراضو له پیل، بیا د تناکو تر رغېدو او پر پوستکي د تناکو د نښو تر پای ته رسېدو پورې، نور خلک په ناروغۍ اخته کولای شي. دا ناروغي له ۲ تر ۴ اوونیو دوام کوي. (د ناروغیو کنټرول او مخنیوي مرکزونه)

# حقیقتونه: واکسین

په ۲۰۱۹ کال کې د بیزو تنړاکې ناروغۍ او چیچک مرض څخه د خلکو خوندیتوب په پار دوه ډوزه واکسین تایید شوي دي. حال دا چې لاسرسی ورته محدود دی. دا واکسینونه په کاناډا کې د «Imvamune»، په انګلستان او اروپا کې د «Imvanex» او په امریکا کې د «Jynneos» په نومونو یادېږي او د «Bavarian Nordic» ډنمارکۍ کمپنۍ له لوري جوړ شوي دي.

دا واکسین په اوس وخت کې د «کړۍ په نوم واکسیناسیون» په تعقیب په هغو هېوادونو کې چې زیاتې پېښې په کې رامنځ ته شوي، لګول کېږي. د واکسینو خوندیتوب دا لاره چاره، د ټولو هغو کسانو له‌پاره ده چې پر ویروس د اخته کېدو له ګواښ سره مخ دي او یا هم اخته شوي دي. دا لاره په عمومي ډول د واکسین کولو پر خلاف، یوازې هغو کسانو ته ځانګړې شوې چې پر ناروغۍ د اخته کېدو ګواښ یې زیات دی.

دا چې تر دې مهاله په افغانستان کې د بیزو تنړاکې ناروغۍ هېڅ پېښه نه‌ده لیدل شوې، نو له دې امله په هېواد کې د واکسین د تطبیق له‌پاره هم هېڅ پروګرام نشته. اوس‌مهال په هغو هېوادونو او ډلو کې چې د دغې ناروغۍ زیاتې پېښې ثبت شوي دي، د مخنیوي له‌پاره هر اړخیزې هلې ځلې روانې دي. له دې سره جوخت په پاتې هېوادونو کې د دغې ناروغۍ د مخنیوي، او پر ناروغۍ د څارنې پروګرام د پیاوړتیا له‌پاره هم اقدامات تر لاس لاندې دي.

د بیزو تنړاکې واکسیناسیون ستراتیژۍ پرخلاف، کوویډ-۱۹ د مړینې پېښو راکمولو، د ناروغۍ پرمختګ او پر روغتیایي سیسټم د فشار راکمولو له‌پاره ډله‌ییز یا عمومي واکسیناسیون ته اړتیا لري. د افغانستان په روغتیایي سیسټم کې شته ستونزو ته په پام، له خطر سره مخ ډلو ته (سپین ږیري، او هغو کسانو ته چې له مزمنو ناروغیو کړیږي) د واکسین ورکړه د ارزښت وړ ده.

# حقیقتونه: د لېږد لارې چارې

په ناروغۍ له ککړ انسان او یا حیوان سره نږدې اړیکه، بل کس ته د بیزو تنړاکې ویروس د لېږد تر ټولو مهم عامل دی. د کورنۍ غړي او یا هغه کسان چې په ناروغۍ د اخته کسانو سره اړیکه لري په دې ناروغۍ یا ویروس د اخته کېدو له خطر سره مخ دي. د بېلګې په ډول روغتیایي کارکوونکي د ورځنیو فعالیتونو له امله پر دغې ناروغۍ د اخته کېدو له زیات ګواښ سره مخ دي.

پر ناروغۍ له اخته حیواناتو سره د نږدې اړیکې پرمهال (له حیوان څخه انسان ته لېږد) یا په ویروس له اخته کس سره نږدې اړیکه (له انسان څخه انسان ته لېږد) ترسره کیږي.

- د بیزو تنړاکې ویروس د وینې، بدن مایعاتو، تنفسي څاڅکو او ککړو موادو لکه بسترې له لارې له یوه کس څخه بل ته انتقالیږي. (نړیوال روغتیایي سازمان)
- دغه راز، کېدای شي چې خلک د ککړو حیواناتو له لوري د داړلو او ګرېدلو، د ککړو حیواناتو غوښې خوړلو، او یا د ککړو حیواني محصولاتو څخه د ګټې‌اخیستلو په پایله کې هم اخته شي.
- بارداري مېرمنې دا ویروس د پلسنټا (placenta) له لارې خپل جنین ته لېږدولی شي.

په اوسنۍ خپرېدنه کې، د ناروغۍ ډېرې پېښې په هم‌جنس‌بازه یا دوه‌جنسیتي ټولنو او یا په هم‌جنس‌بازانو کې تر سترګو شوي دي. خو له دې سره، بیا مو هم دې ټکي ته پام وي چې پر ناروغۍ له اخته کسانو سره اړیکه او تماس په ناروغۍ د اخته کېدو خطر زیاتولی شي.



# بشرپاله بنسټونه څه کولای شي؟

- خپلې اړیکې ریښتنې او واقعي وساتئ، له ټولنو سره د ورځنیو او په حالاتو پورې اړوندو هر ډول مسایلو په اړه خبرې اترې وکړئ، او له غیر ضروري خبرداریو ډډه وکړئ. د بیزو تڼاکې ناروغي په هر ځای کې د خبرونو سرټکي جوړوي، خو دغه ویروس لا تر اوسه په افغانستان کې نشته (یا داچې لا نه‌دی پېژندل شوی). په بېلابېلو هېوادونو کې د دې ویروس د خپرېدو او د څارنې بهیر د څرنګوالي په اړه خبرې اترې او خپل نظرونه شریک کړئ. (له دې ناروغۍ څخه راولاړ ګواښونه، دا چې چېرې رامنځ ته کېږي، او ولې یې څارنه مهمه ده. ځکه چې دا ناروغي په نړیواله کچه او ستاسو په هېواد کې د تکامل او ودې په حال کې ده.
- د بیزو تڼاکې ناروغۍ د لازیاتو نښو، اعراضو او پېښو له‌پاره چمتو واوسئ او پاملرنه ورته وکړئ. د بیزو تڼاکې د نښو او اعراضو او دغه راز د دغې ناروغۍ د لېږد په اړه هغو ډلو یا کسانو ته چې زیات له ګواښ سره مخ دي، خبر ورکړئ او هغوی په هېواد کې دننه د هر ډول راتلونکو احتمالي پېښو له‌پاره چمتو کړئ. پر دې سربېره د هغوی ټولو روغتیایي لومړیتوبونو ته پاملرنه وکړئ.
- د کووېډ-۱۹ او بیزو تڼاکې ناروغۍ د واکسیناسیون- لارو چارو ترمنځ د توپیر او له عامو خلکو سره د هغو- تړاو په اړه خبرې وکړئ. د ټولنو وګړو له‌پاره اړینه ده، څو په دې پوه شي چې ولې، څوک او څرنګه باید د واکسینو بېلابېل ډوزونه واخلي. په داسې حال کې چې د مړینې کچې راکمولو او په وګړو کې د ناروغۍ زیاتوالي مخنیوي په موخه د کووېډ ۱۹ ناروغۍ سره د مبارزې له‌پاره ډله‌ییز واکسیناسیون ته اړتیا ده. د بیزو تڼاکې ناروغي تر ډېره بریده د کنټرول وړ ده او یوازې هغو کسانو ته واکسین ورکول کیږي چې له ګواښ سره مخ دي. د دې موضوع درک کول د بل واکسین ترلاسه کولو په برخه کې د بېلابېلو ټولنو اندېښنو له راکمولو سره مرسته کوي چې مخکې یې هېڅکله هغې په اړه څه نه‌و اورېدلي.
- په هېواد کې دننه کسان په نظر کې ونیسئ. په روغتیا پورې اړوند ټول معلومات باید د دیني او مذهبي مشرانو، قومي مخورو او افغان ډاکټرانو په ګډون د ټولنې باوري سرچینو له خولې وړاندې شي. دا کسان کولای شي د بیزو تڼاکې ناروغۍ، کووېډ ۱۹ او نورو ناروغیو خپریدو په اړه د پېچلو لارښوونو د تعبیر او تفسیر په برخه کې مرسته وکړي او هغه په داسې معلوماتو بدل کړي چې د خلکو له احساساتو سره اړخ ولګوي.

**تاسو کولای شئ د بیزو تڼاکې ناروغۍ او کووېډ ۱۹ په اړه د اړیکو لارښود له ټولو سرچینو ګټه پورته کړئ:**

- د لا زیاتو معلوماتو لپاره د انټرنیوز (ښه ده چې وپوهېږئ) روغتیایي کڅوړې ته مراجعه وکړئ، چې د خبربالانو لپاره د بیزو تڼاکي ناروغۍ په اړه معلومات وړ اندې کوي: https://bityl.co/DyLF
- د بیزو تڼاکې ناروغۍ د خپریدو خطر اړوند د روغتیا نړیوال سازمان ټولنیز ارتباط او ښکېلتیا: لنډمهاله لارښود: ۲۰۲۲ کال جون میاشت: https://bityl.co/DyLL

«Rooted in Trust» پروژه د امریکا متحده ایالاتو پراختیایي ادارې د بشردوستانه دفتر له لوري، د بشري سازمانونو او عامې روغتیا ملاتړ او د کووید-۱۹ اړوند اوازو خپراوي سره د مبارزې په پار تمویل او د انټرنیوز له خوا تطبیقېږي. د ټولنې څخه د خلکو نظرونو راټولولو موخه دا ده، چې له روغتیایي او بشري بنسټونو سره مرسته وشي، څو د اطلاع‌رسونې او ګواښونه په اړه د پوهاوي پروګرامونه، د خلکو لیدلورو په رڼا کې چمتو او د ټولنې اړتیاوو ته په پام خپاره شي. انټرنیوز، له سیمه‌ییزو رسنیو، د اطلاع‌رسونې له شبکو او د ګواښونو تماس او د ټولنې مشارکت ډلو (RCCE SWG) سره، همکاري کوي.

په دغه لنډ راپور کې درج شوې اوازې، د انټرنیوز دري، پښتو او انګلیسي ځانګو له خوا، له ټولنیزو او خصوصي رسنیو راټولې شوي دي.

**موږ به د دې خپرونې په اړه ستاسو د نظرونو ستاینه وکړو. همدارنګه، د همکارۍ او معلوماتو شریکولو لپاره زموږ د بریښنالیک لیست سره یوځای شئ. مهرباني وکړئ په msadat@internews.org کې د میر روح اللّٰه سادات، د انټرنیوز لوړ پوړي پروګرام همغږي کوونکي سره اړیکه ونیسئ.**